PennState Law | Center for Immigrants' Rights Clinic

PARS EQUALITY CENTER

Khanbabai Immigration Law

# د افغان اتباعو لپاره د پناه غوښتنې اساسات

*September 14, 2021*

**دا سند د افغان اتباعو لپاره د پناه غوښتنې (اسایلم) قانوني اختیار تشریح کوي**

شردوستانه (پیرول) څه شی دی؟

بشردوستانه پیرول امریکا ته د ننوتلو لنډمهاله اختیاري جواز دی چې د بشردوستانه یا د عامه ګټو په صوزت کی ورکول کیدی شي

د اګست په ۲۶ نیټه ۲۰۲۱ کال د امریکا د تابعیت او کډوالی دفتر یا (یو اس سی ای اس) د هغو افغان اتباعو لپاره یو لاربنود خپور کړو البته هغه څوک چی په امریکا کی د پیرول لاسته راوړلو لپاره هڅه کوی

ایا یو افغان چی پیرول تر لاسه کړی بیا کولی شی چی پناه غوښتنه(اسایلم) وکړي؟

.هو ، د پیرول لاسته راوړنی څخه وروسته پناه غوښتنه (اسایلم) نشی متضرر کیدی.

پناه (اسایلم) څه ده؟

هرڅوک چی په امریکا کی فزیکي شتون ولري کولی شي د پناه غوښتنه وکړي، بغیر له دی چی د دوی امریکا ته د راتګ او یا د مهاجرت وضعیت په پام کی ونیول شی. که څوک غواړی چی پناه غوښتنه یی اومنل شی، نو د مهاجرت قانون په اساس هغه باید دا په اثبات ورسوی چی هغوی د یو دولت ، دولتی کړی ، پت ، مذهب، سیاسی نظریات او یا د ټولنیز ګروپ د غړیتوب په اساس ځورول شوی وی.

د پناه غوښتنې محدودیتونه څه دي؟

ډیر دی.

This document is a Pashto translation of "Asylum Basics for Afghan Nationals." The goal of this document is to provide general information and is not meant to act as a substitute for legal advice from an attorney.

یو مهم اړخ یی دا دی چی باید پناه غوښتونکی امریکا ته د هغه د اخری ورځی راتګ څخه شروع بیا ترهمدغی کال په د ننی
کی باید خپل غوښتنلیک ثبت کړی. او که چیرته د یو کال څخه وروسته غوښتنلیک ورکړی نو باید خپلی ستونځی د امریکا
مهاجرت دفتر ته وړاندی کړی لکه د وطن وضعیت او یا هم کومه دماغی ناروغی او داسي نور.
د یو نفر پناه غوښتنه د هغه د جرمی ثابقی په نظر کی نیولو سره یا په بیرون او یا داخل د هیواد کی کیداشی ونه منل شی.
(او یا هغه نفر چی د دریم هیواد کی د دایمی استوګنی لپاره غوښتنلیک ورکړی وی).

ایا د پناه غوښتنه کولو لپاره فیس شتون لري؟

.نه. د پناه غوښتنه کولو لپاره هیڅ فیس نشته

که چیرې چا ته پناه ورکړل شي ، ایا دوی کولی شي په دایمي توګه په امریکا کې پاتې شي؟

یوځل چې یو کس ته پناه ورکړل شي ، دوی کولی شي یو کال وروسته د دایمي استوګنې لپاره او پنځه کاله وروسته د تابعیت
لپاره غوښتنه وکړي.

څنګه یو نفر پناه غوښتنه کولی شی؟

د پناه غوښتنی (اسایلم) لپاره یو دولتی فورم () سره د ملاتړی اسنادو سره باید فایل (ثبت) شی.
د پناه غوښتنی (اسایلم) مرحله یو څه مغلقه دی البته ښه به وی چی یو تجربه لرونکی وکیل څخه همکاری ترلاسه شی.

یو څوک د پناه غوښتنی کولو وروسته کوم قانونی حیثیت لري؟

دا فرق کوی، لکه ..

. یو څوک چې د پناه غوښتنې په وخت کې د کډوالۍ په قانونی حالت کې وي پداسې حال کې چې د پناه غوښتنه یې پاتې وي
دغه قانونی حیثیت همداسی پاتی کیږی. او یو څوک چې د پناه غوښتنی کولو په وخت کې بې اسنادو وي هغه به په غیر
مستند حالت کې پاتې وي خو پناه غوښتنلیک به یې همداسی پاتې وي.

څه پیښیږي وروسته لدې چې یو څوک په مثبت ډول د پناه غوښتنه کوي؟

کله چی یو څوک د پناه غوښتنی لپاره غریضه ورکړی نو عریضه یی د () لخوا پر مخ وړل کیږی. په زیادتره مواردو کی
پناه غوښتونکی یو یاداشت ترلاسه کوی ترڅو د پناه غوښتنی په دفتر کی د مرکی لپاره اماده شی. د انتظار نیټه د میاشتو او
یا تر کلونو وخت نیسی.

چیرته کولی شم نورې سرچینې ومومم؟

- Penn State Law Center for Immigrants' Rights Clinic
- AILA - Find Resources for Assisting Afghan Clients
- Pars Equality Center

This document is a Pashto translation of "Asylum Basics for Afghan Nationals." The goal of this document is to provide general information and is not meant to act as a substitute for legal advice from an attorney.